پوهنوال رسول باوري برخه: جغرافیه ۲۰۱۷/۰۳/۲۱

# ولایت زابل



**د افغانستان په لرغوني تاريخ کي دزابل او زابليانو ونډه.**

افغانستان د ۱۹۲۱ زيږد کال د اساسي قانون پر بنسټ پر څلورو ولايتونو او څلورو لويو حکومتونو وويشل شو ، چي د زابل اوسنۍ ولايت د هغه مهال په کندهار ولايت پوري اړوند وشميرل شو. په ۱۹٦٤ زيږد کال افغانستان په ۲۹ ولايتونو او لويو حکومتونو وويشل شو،چي زابل هم دخپل ارزښت له مخي د ولايت مقام ته لوړ شو. د زابل ولايت ( ۱۷۲۹۳ )اولس زره دوه سوه دري نوي کيلومتره مربع پراختيا لري ، د اداري واحدونو شمير يي لسو ته رسيږي ، او د ولايت مرکز يي د کلات نامتوښار دی . د دې ولايت شمال لورته د روزګان ولايت ، سهيل ته سرحدي کرښه ، لويديځ ته يي د کندهار ولايت او ختيځ ته يي د غزني ولايت پروت دی ، دا ولايت د سهيل ختيځ له لوري د پکتيکا سره هم د يوه لنډ واټن ګاونديتوب لري ..

زموږ د هيواد هر سيمه د لرغوني تاريخ نښاني او د وياړ سرليکونه او ځانګړي ځپرکي لري ، خو د زابل وياړني او تاريخي کارنامي ز موږ د هيواد په لرغونو ، منځنيو او د اوسنيو تاريخي پيريو کي ستر سرليکونه اوزموږ و هيواد دملي تاريخ زرين فصلونه دي . په ويدي او اوستايي متونو کي ، د يونانو _ باختري پير ليکوالانو ، د کوشاني او زابلي واکمنيو پرمهال د زياتو مورخينو په اثارو او ليکونو کي يي د برم او دبدبي او يا د مقاومت او سرښندنو کارنامي ستة . د دې ليکني موخه د هغو ټولو تاريخي پيښو او وياړنو را يادول او سپړل نه دي چي زابل يي د تاريخ په اوږد مهال کي لري ، پوازي په دې لنډه ليکنه کي د زابل د لرغوني تاريخ هغه ځانګړي بيلګي را يادو چي د افغانستان په ملي تاريخ کي وياړلي سرليکونه ګڼل شويدي ..



به صفحهٔ قاموس کبیر افغانستان خوش آمدید
تیم بنیان گذار این قاموس آرزو دارد، داشته های این گنجینه که نمایانگر اصالت افغانستان باستان است شما را تا حد لازم مدد رساند

خبره به د زابل د نوم څخه را پیل کړو ، دانوم له ډیرو پخوانیو زمانو راهیسي د هیواد پر همدې برخي چي اوس یې د زابل ولایت په نوم پیژنو اینودل شوی او پیژندل شویدی ،دا نوم د املا او انشا له مخي په لږ او ډیر بدلون کله د یوه خپلواک هیواد په توګه چي زیاتي سیمي یې تر ولکې لاندي درلودي ، کارول شویدی او کله هم د یوه ولایت او یوې محدودي سیمي په ډول د تاریخ په پاڼو کي ثبت او لیکل شویدی . د یوشمیر څیړونکو له نظره د زابل نوم لږ تر لږه ۱۷۰۰ یو زر او اوسوه کاله پوخوا تر زیږد هغه وخت یاد شویدی ، چې درزدشت یا سپینتمان د ستورو پیژندونکو په مرسته د کال د فصلونو د ښولو او پیژندلو په نیت د سیمو د ټاکلو اراده وکړه ، او په دې ډول یې د اوسني زابل سیمه هغه ټاټوبی وښودی چي د کال لمر له ژمني ځنډي څخه پسرلنی ځنډي ته ځان رسوي ، هغه ته یې د زابل نوم ورکړ ..

د زابل د نوم او ریښي په اړه د یوشمیرنورو څیړونکو اندونه او نظریې هم په یوشمیر رسالو او اثارو کي شته او را نقل شویدي چي ورسته به یې یادونه وکړو ، خو د پورتنۍ طرحي لپاره د نورو لاسوندونو تر څنګ د بیلګي په توګه تر ټولو ارزښتمن دلیل را یادو : او هغه دا چي د زابل په سیمه او اړوندو برخو کي د( زون ) په نوم د لمر نمانځني تر ټولو ستر معبد له ډیرو پخوانیو زمانو څخه بیا د اسلامي لښکرو تر واکمنۍ پوري د یوه عبادت ځای په توګه په سیمه کي د میشتو وګړو واو هم د زابلي واکمنانو له لوري په درنښت ساتل کیدی او د هغه ته یې عبادت کاوه ، د زون معبد او د هغه معبد شا او خوا سیمي د زابل واکمنو تر ولکې لاندي وې . او د کابل په خیر خانه کي د سوریا معبد پیدا کیدل هم د دې وینا ډاډمن لاسوندی دی .
د خیر خانی کوتل د سوریا مجسمه

انګلیسي مورخ سر اولف کارو په دې باور دی چي یفتلیان د منځنۍ اسیا څخه د سهیل په لور را خوځیدلي او په درې سوه شپیته زیږد کال یې د کوشانیانو واکمني پای ته ورسول او د ساسانیانو سره تر درنې جګړې وروسته د خپلو سیمو دفاع ته اړ سول ، دې قبیلو زیات شمیر بودایي ودانۍ ړنګي او د لر نمانځني عبادت ځایونه یې ودان پریښودل ، هغه وخت چي یې د واکمنۍ پراخه امپراتوري په وړو وړو سیمه ایزو واکمنیو واوښتل بیا یې د عربي مهاجمینو په وړاندي لږ تر لږه دوې پیړي پر له پسي د دفاع سنګرونه تاوده وساتل ..

یو شمیر څیړونکي د زابل نوم د هیپتلي پاچاهانو د نوم سره تړي ، دا ډله څیړونکي په دې باور دي چي د هیفطل ، هیا طله او هبفتلیانو نو مونه په ډیر لږ بدلون په تاریخي متونو کي د بیلا بیلو مورخینو او څیړونکو له خوا په خپلو اثارو اولیکنو کي کارولي دي . زیات شمیر څیړونکي او په ځانګړي توګه د مرحوم استاد احمد علي کهزاد له نظره یفتلیان او د هغو اړوند ټبر ونه په اوسني زابل کي څه ناڅه یوزر او پنځه سوه کاله پخوا تر اوس میشت شویدي . همدا کورنۍ وې ، چي د دریمي زیږدي پیړۍ څخه تر اومي زیږدي پیړۍ پوري یې د افغانستان زیاتي برخي په ځانګړي توګه د هندوکش پرلویدیځو ، سهیلي او ختیځو سیمو واکمن درلوده ..

علا مه حبیبي د یفتلي پاچاهانو او یو شمیر پښتني قبیلو د نومونو تر منځ د ورته والي په اړه د هر اړخیزي څیړني وروسته داپایله تر لاسه کړیده چي ، د هیپتل کلمه د پښتنو د قبیلو د ابدال د نوم سره چي د پښتنو یو لویی ټبر دی ، ورته والی لري ،دا ورته والي د ژبني ارونو د ادلون بدلون سره برابردی . یوه بله داسي بیلګه د پښتو غلجی د عربي خلجی اود درې غلزی دی ، چي په ژبنیو څیړنو کي یې د یفتلیانو سره اړیکي جوتي دي ..


به صفحهٔ قاموس کبیر افغانستان خوش آمدید
تیم بنیان گذار این قاموس آرزو دارد، داشته های این گنجینه که نمایانگر اصالت افغانستان باستان است شما را تا حد لازم مدد رساند

د هغو مسکوکاتو څخه چي د کابل ، هډې ، غور بند او نورو سیمو څخه تر لاسه شوي ، د یفتلي پاچاهانو څیره او قیافه د اوسي پښتني غلجي کوچیانو سره ورته والی لري ، لوړي پزي ، جګي ونې االو د پاچاهۍ تاجونه یې پر سر دي ، دا اولسکیزي ( مسکوکات ) د یفتلي پاچاهانو په بیلا بیلو واکمنو او بیلا بیلو دورو پوري اړه لري . د یفتلي پاچاهانو د پیسو څو بیلګي :.
د یفتلیانو کورنۍ د دریمي زیږدي پیړۍ څخه د پخواني افغانستان پر ټولو برخو واکمني درلوده چي یو ستر اداري او نظامي مرکز یې داوسني زابل نامتو ښار کلات وو ، خو د شپږمي زیږدي پیړۍ وروسته په وړو او سیمه ایزو واکمنیو واوښتل ، چي د اعرابو سره په جګړو کي یې د خپلو سیمو د ساتلو پوره زړه ورتوب ښودلی دئ ..

زابلیان یا یفتلیان چي د هندوکش پر سهیلي ، سهیل لویدیز او سهیل ختیزو سیمو پوره واکمنۍ در لوده او د واکمنۍ برم یې د هند تر پوتالي پوترا رسیدئ په پر له پسې توګه په ددریو لورو د خطر او حملو لاندي وه . یفتلیانو د خپلي واکمنۍ په لویدیز ي خواکي د ساسانیانو سره ناملالومي سرحدي کرښي درلودئ ، چي په پر له پسې توګه د دې دواړو سیاسي واکمنیو تر منځ د سیمو لاندي کولو لپاره د جګړو اور بلیدئ ، د بیلګي په توګه د زابلي یفتلیانو او ساسانیانو لومړئ نښته په ٤٢٧ زیږد کال د یفتلي بقوت پاچا او بهرام ګور تر منځ شویده . په دې جګړه کي د بهرام ګور زرین تاج او د هغه ټول مال او منال د بقوت بریمنو لښکریانو ته ورسیدئ . دویم یزد ګرد چي په ٤٣٨ زیږدکال د پارس واکمن سو هم ، څو ځله د یفتلي پاچاهانو پر سیمو جګړ ه ایز عملیات وکړه ، خو بریالی نه شو او د یفتلي پاچاهانو دسیمو د لاندي کولو او غصب کولو په ارمان کي ومړ ..
د پارس پر سیمه د لومړي فیروز واکمني چي د ٤٧٥ زیږد کال څخه بیا تر ٤٨٤ زیږد کال پوري یې دوام درلود ، څو ځله د یفتلي پاچاهانو سره د جګړي میدان ته راووت ، د لومړي فیروز سره په یوه جګړه کي پارسي ځواکونو ماتي وخوړه او فیروز خپل زوي قباد د یفتلي پاچاه اخشنوان در بار ته د داسي ضامن په توګه ورکړ چي بیا به د یفتلیانو پر سیمه یرغل نه کوي ، خو فیروز دا وعده پرځاي نه کړه او په یوه بله خونړۍ او د هغه د ژوند په ورستۍ جګړه کي یې د یفتلیانو پر سیمو یرغل وکړ او دا ځل بیا د ماتي سره مخامخ شو او خپله فیروز هم په دې جګړه کي ومړ او پر ځای یې دهغه زوي قباد واکمنۍ ته ورسیدئ ، څرنګه چي د پارس نوئ واکمن قبا د د یفتلیانو سره د ضامن په توګه ډیر کالونه تیر کړي وه ، نو یې د یفتلي پاچاهانو سره یې د دوستۍ اړیکي ټینګي کړې ..

د زابلي یفتلیانو د سیاسي واک په وړاندي دویم سرخوړئ د واکمنۍ په دننه کي د یوشمیر سیمه ایزو او محلي وړو واکمنیو مقاومتونه او پاڅونو نه وه ، د هندوکش په شمال کي د د کیداریانو پاتي شوني ، د هیواد په مرکزي سیمو کي د شیرانو او د کابل شا او خواکي دکوچیني کوشانیانو پاته شونو ، وخت ناوخت د یفتلي پاچاهانو د واکمنۍ د پراخیدو لپاره خنډونه را منځ ته کول ، د بیلګي په توګه ، د کیداریانو او بهرام ګور تر منځ د یوې درنې جګړې وروسته اوربند وشو چي کیداري واکمن د ساساني پاچا د خور سره د واده په اړیکو دې اور بند ته غاړه کښیښوده ( ٤٥٩ زیږد کال ) همدا وخت یې د یفتلي پاچاهانو سره د تربګنۍ لاره ونیوله ، دالماني څیړونکی مارکوارت په اند کابلي پاچاهانو چي د کوچني کوشانیانو په نوم هم یادیږي ، د هغه زور او دباو په وجه چي د زابلي واکمنانو له خوا پر راغلی وو خپل پلازمینه کاپیسا یې پریښوده او پیښور ته وکوچیدل ..
د سیاسي واکمنۍ پراخیدل او د نویو سیمو لاندي کول بله هغه بوخته وه چي زابلي یفتلیان او دهغو یوشمیر پیاوړي مشران ورته ژمن وه . په پارس کي د انو شیروان تر واکمنۍ وروسته زابلي


به صفحۀ قاموس کبیر افغانستان خوش آمدید
تیم بنیان گذار این قاموس آرزو دارد، داشته های این گنجینه که نمایانگر اصالت افغانستان باستان است شما را تا حد لازم مدد رساند

پاچاهانو خپله مينه د پارس له لوري لږ کړه او د پارس پر ځای يې د هند او هندوکش شمالي سيمو لاندي کولو ته مخه کړه ، د چيني مورخ ليانګ شو په قول يفتلي پاچاهانو ورو ستا له هغه چي د هندوکش شمالي زياتي برخي لکه کوګيار،واخان ،زيباک ،او او د امو سند دواړو خوا وته پرتي سيمي تر خپل واک لاندي راوستي ، بيا يې په سهيلي لور کي لومړئ د ګندهارا سيمه خپله کړه او ورورويې د هند لويې وچي لور ته د خپلو پرخوا د فتوحاتو لمن وغزول . د هندي او اروپايې مورخينو پر دې ټکي يوالی شته چي د هند پر لور د زابلي پاچاهانو فتوحات ورورو د زابل ارزښت ديوې ستري امپراتورئ د پلازميني په توګه لږ کړ او د يفتلي پاچاهانو پام د هند پراخو سيمو د نيولو او اداره کولو پر لور زيات شو ، او ددې کار لپاره تر ټولو ښه جغرافيايي موقعيت د پيښور او تاکسلا او بيا وروسته د پوتالي پوترا او ډهلي په برخه وو . مهرا کولا ، تورامانا او دې ته ورته نورو يفتلي پاچاهانو په زياته پيمانه د خپلي امپراتورئ سهيلي لوري ته پام کاوه .

د دې سره سره چي د زابلي پاچاهانو او د هغې سلسلې دلويو امپراتورانو زياته پاملرنه د سهيلي خوا او په ځانګړي توګه د هند لوري ته ګرځيدلي وه ، خو زابل ديوې پخواني پلازميني په توګه د خپلو نږدې سيمو په کنترول او اداره کي تر زياته حده واکمن وو ، په زابل کي واکمنه سلسله په پر له پسي توګه د ساساني يرغلګرو او تر هغو وروسته د عربي لښکرو سره د ترپ او خرپ په جګړو لږ تر لږه تر ٦٤٠ زيږد کال پوري بوخت وساتل شوه په دې ترتيب يې د خپلي واکمنئ د دوام لپاره د اسلام مبارک دين تر پوره خپريدو تر مهاله د خپلو اولسو پوره ملاتړ د ځان سره درلود او تر خپل واک لاندي سيمي يې په پر له پسې توګه د بهرنيانو په وړاندي وساتلي . تر څو چي د اسلامي لښکرو يو مشر عبدالرحمن ابن ثمره په يوه تنده جګړه کي تر کابله ټول موانع ليري او د سيستان څخه تر کابل ټولي سيمي ونيولی ، خو دا يوه بريښنايې جګړه وه لا زياته موده نه تيره چي بيرته د زابلي پاچاهانو پاتي شونو د خپلواکئ بيرغ پورته کړ او د جګړو دا لړئ لږ تر لږه نور سل کاله وغزيدل ، چي يادونه به يې د زابل په منځنئ زمانه کي تر بحث لاندي راشي .
د کلات بابا غونډئ چي اوس دولتي اداري ورڅخه ګټه اخلي

د کلات لويه غنډئ په يوه انځور کي.
**پايله :** زابل د افغانستان په تاريخ کي وياړلئ باب او د لرغوني تاريخ زرين سرليک دئ .د دې سره سره چي د زابل په سيمه کي لا تر اوسه علمي او فني څيړني او سپړني نه دي شوي ،خو زابل ته د څيرمو سيمو څخه داسي زيات لاسوندونه تر لاسه شوې چي د دې سيمي تاريخي جرړي زرګونو کالو پخوانيو زمانو ته رسوي . د بيلګي په توګه د زابل لويز ته دکندهار منډګک ، اود سيستان نادعلي ، سهيل ته يې د کوټي لور لايې او ژوب او ختيز ته يې د لرغوني غزني سيمي واقع دي چي هر سيمه يې زموږ د هيواد لپاره وياړلي اثار او لاسوندونه لري ، که په زابل کي د علمي او فني څيرنو اړ سپړنو کار پيل شي ، په ډاډ ويلای شو چي په دې سيمه کي به هم د افغانستان د لرغوني تاريخ تر اوسه پټ خو ارزښتمن اثار او لاس وندونه تر لاسه شي . په دې اړه د زابل اوسنيو چارواکو او د کلتوري چارو واکمنو او د دې سيمي مخکښو کلتور پالو شخصيتونو ته د وړانديز په توګه لاندي ټکي يادول غواړم :.
١ : د زابل څخه دې د لرغونو او تاريخي اثارو د قاچاق په مخنيوي کي لا ګړندي ګامونه واخستل شي ؛.
٢ : په زابل کي تاريخي ودانئ او زيارتونه ، چي د پخوانيو دورو د ودانيو ځانګړي بيلګي دي ، د هغو په ساتلو او له سره رغولو کي د عملي کار لپاره د هيواد د کلتوري وزارت څخه ځانګړي ژمني واخلي ؛.


به صفحهٔ قاموس کبير افغانستان خوش آمديد
تيم بنيان گذار اين قاموس آرزو دارد، داشته های اين گنجينه که نمايانگر اصالت افغانستان باستان است شما را تا حد لازم مدد رساند

۳ : په زابل کي دي (( د زابلي پاچاهانو موزيم )) په نوم ، د يوه موزيم د جوړولو او پرانستلو پروژه طرحه او اړوندي چاري دي ګړندۍ کړي ؛.
٤ : د زابل ولايت په مرکز کلات ښار کي د موزيم خوا ته د يوه تفريحي پارک د جوړيدو لپاره دي بهرنۍ مرستندويه موسيسې وهڅول شي .
په درنښت ، د ځوان فرهنګپال ښاغلي خالد حيدري څخه مننه کوم چي ددې ليکني لپاره يې د انځورونو په پيداکولو کي را سره مرسته وکړه :.
ښاغلو لوستونکو ته د دې ټکي يادول اړين ګڼم چي د دې ليکني د ثقم او لا زياتو مالوماتو لپاره دي د نورو اثارو تر څنګ لاندي اخځونو ته ورشي ..
اخځونه د الفبا په تر تيب.


۱:باوري ، رسول . د افغانستان لرغوني مدنيتونه ،( کابل : ودلتي مطبعه ) ۱۳٦٤ ..
۲ : جوينده ، مير احمد ، د يفتليانو سياسي تاريخ ، ( کابل : دولتي مطبعه ) ۱۳٥۸ ..
۳ : حبيبي ، عبدالحئ . د افغانستان لنډ تاريخ . ( کابل : دولتي مطبعه ) ۱۳٤٦ ..
٤ : صافی ، لطف الله . لا افغانستان عمومي جغرافيا . ( پيښور : دانش کتابتون ) ۱۳۷۷ ..
٥ : کهزاد ، احمد علي . غرغښت نامه ، ( کابل : دولتي مطبعه ) ۱۳٥۷ ..
٦ : همايون ، سرور. په ادبياتو کي د لمر نمانځني ائين ( کابل : دولتي مطبعه ) ۱۳٦٤ ..

منبع : سلام فرهنگی تولنه.



به صفحۀ قاموس کبیر افغانستان خوش آمدید
تیم بنیان گذار این قاموس آرزو دارد، داشته های این گنجینه که نمایانگر اصالت افغانستان باستان است شما را تا حد لازم مدد رساند